


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نیټه : ۱۴ اګست ۲۰۱۳ میلادی

# مورجانی

ستا ژوندون راته ژوندون دی ستا دیدن راته بـــــهار
بی لتا مـــی زړه محزون دی زړه می تـــــا سره قرار

ستا په پیو باندي لوي شوم په ښو بدو هم ښه پوي شوم
تا راکړی مـــــا تـــــه مینه تا ښودلی مـــا تـــه لار

ځنګ ته ناسته زما په خواه وي که زه ویښ وم یا بیده
ته می هر درد ته دوا وی که زه روغ وم یا بیـــــمار

تا ګــــاللی زحـــــــمتونه چه زه لوی شــــــمه نامداره
تاله ځا ن کړل ورک خوبونه چه زه نه اوســـمه خوار

پروت ستا پښو ته پاك جنت دي ستا ساتنه لوي عزت دي
هر خواه ګورم ستا صفت دي ځکه ته ی زمونږ حقدار

زه محب ستا په ثنا یم ګراني موري زه دي ستایم
خوښ پدي یمه چه وایم ځان می تا نه کړمه ځا ر

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org